






د محب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : ۲۶ می ۲۰۱۳ میلادی

# اندرزونه !!!!!

که غواړی چی مین شی مینه مکړه په خپل نفس
خپل نفس به دي ګمرا کړی
ځان دی ساته له نفس دوستو مینانو
په دی لیار به تا همرا کړی

که دی دوست له ځان خفه کړ مقصر وی
هم ببښنی ته له دوست نه منتظر وی
ټول دوستان به له تا شا کړی

که روښانه دی کړه لاره د دوستان
مه کړه غم چی څنګه شپه دی شی روښان
توره شپه دی دوست رڼا کړی

ته په غلا مکړه شیرین خوله اولبان
لری ساته ته له دی حلوا نه ځان
که شرین هم د ستا خوله دغه حلوا کړی

چی بی عقل بی منطق دی ته حذر که
بی حیا خلکو له ډلی ځان بهر که
بی حیا کله حیا کړی

تښته څوک چې عزت نه کړی د مشرانو
نه شرمیږی دی له خپلو خطاګانو
نو خطا به دی بیا بیا کړی

چا چې نوم خپل بی له شرمه کړ رسوا
ته نو ولی نه کړی ځان تری نه جدا
ګوره تا به هم رسوا کړی

چاچې څو څو ځلی تاسره جفا کړه
باور مه کړه که بیا ده تاته ژړا کړه
فتنه ګر هم تویی اوښکی هم ژړا کړی

قلب دخدای لاره ده- پوه شه تنک نظره
د شیطان لاره ده نفس، ای بـــی خبره
نو شیطان به دی ګمرا کړی

که ته ویره کړی له خدایه سعادت به دی شی برخه
مجب وای ځان اصلاح که دیانت به دی شی برخه
ستا تورتم به خدای رڼا کړی

*****

محب الرحمن « خطیبی »

د ۲۰۱۲ میلادی ـ کال

[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)- بازگشت به صفحه اصلی